اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کیږي:

اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَیۡنَا حِکۡمَتَکَ وَانۡشُرۡ عَلَیۡنَا رَحۡمَتَکَ یَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِکۡرَام

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا !

(مستطرف ج ۱ ص ۴۰ دار الفکر بيروت)

طالب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: په برَګ اَس سور سرے

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکۡتَبَةُ الۡمَدِیۡنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

## كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ

كه د كتاب په طباعت كښې څه ښكاره خامي وي يا پاڼرے كمې وي يا په بائنډِنګ كښې مخكښې وروسته لګيدلي وي نو مَکۡتَبَةُ الۡمَدِیۡنَه ته رجوع اوکړئ.

## وِینه

د **حلالولو** په وخت کښې چې کومه وِینه اوځي هغې ته"**دَمِ مَسۡفُوح**" وائي. دا ناپاکه وي او د دې خوړل **حرام** دي. حلالولو نه پس چې کومه وِینه په غوښه کښې پاتې شي مَثَلاً د مرئ په کټ شوي حِصّه باندې، په زړه کښې دننه، په اِینه او توري کښې، او په غوښه کښې دننه وړوکو وړوکو رګونو کښې [پاتې شوي وِینه]. دا اګر چې ناپاکه نه وي خو د دې وِینې خوړل هم **منع** دي. لِهٰذا پخولو نه مخکښې ئې صفا کړئ. په غوښه کښې ډېرو ځایونه کښې په وړو وړو رګونو کښې وِینه وي د هغې خیال ساتل ډېر مشکل وي. پخیدو نه پس هغه رګونه د تور مزي په شان شي. خاص طور په دِماغو، په سر او ښپو او د چرګي د پتون او وزرو وغیره غوښه کښې نري تور تارونه ښکاره کیږي د خوراک په وخت کښې ترینه هغه لرې کوئ. **د چرګې زړه هم روغ مه پخوئ، په اوګږدو ئې څلور ځایه څیرئ او اوّل ترینه وِینه ښه صفا لرې کوئ.**

## حرام مغز

**دا** د سپین مزي په شان وي او دا دماغو نه شروع کیږي او په څَټ کښې دننه تیر شوے وي او د ملا د تیر په هډوکي کښې آخِرې پورې تلے وي. ماهر قصاب د څَټ او د ملا د تِیر هډوکے په مینځ ولاړ کټ کړي او حرام مغز ترینه را اوباسي او غوزار ئې کړي. خو ډیر څَل د بے احتیاطئ په وجه لږ ډیر پاتې هُم شي. او په اِنګولي یا بریانئ وغیره کښې

پاخه هم شي. ځکه د څَټ، او د ملا غوښه وينځلو وخت کښې حرام مغز لټوئ او ترينه اوباسئ ئې. دا د چرګې او د نورو مرغو په څَټ او د ملا په تير کښې هم وي، ځولو نه مخکښې د هغې ويستل ډير زيات مشکل وي لِهٰذا هغه د خوړلو په وخت کښې ويستل پکار دي.

## پټې

د څَټ د مضبوطيا د پاره د هغې دواړو طرفونو ته د زِيړ رنګ دوه اوګږدې اوګږدې پټې وي او دا اوګو پورې راغلې وي. د دې پټو خوړل منع دي. د غوا [يعني غټ مال] او چيلئ [يعني واړه مال] پټې خو په آسانئ ښکارې خو د چرګې او مرغو د څټ پټې په آسانه نه ښکارې. د خوړلو په وخت کښې ئې ګورئ يا د يو معلومات لرونکي نه تپوس کوئ او لرې کوئ ئې.

## ستغونه [يعني غُوټې]

په څَټ باندې، په مرئ کښې، او بعضې ځائے کښې په وازګه وغيره کښې وړې يا غټې بعضې سرې او بعضې د خړ رنګ غونډې غونډې غوټې وي هغې ته په عربئ کښې غَدَّه او پښتو کښې ستغونه [يا غوټې] وائي. دا هم مه خورئ، ځولو نه مخکښې ئې ګورئ او لرې کوئ ئې. که پخه شوې غوښه کښې ښکاره شي نو هُم ترينه لرې کوئ ئې.

## هګـئ

**هګو** ته خُصيه، فوطه يا بيضه هم وائي. د دې خوړل مکروهِ تحريمي دي، دا په غوټې، چيلې وغيره پورې ښکاره وي. د چرګ خيټه چې اوشلولے شي او کولمې ترينه لرې کړے شي نو د خيټې دننه طرف ته دوه سپينې وړې وړې د تُخم په شان دانے ښکاره شي دا [د چرګ] **هګـۍ** دي. دا ترينه لرې کړئ. افسوس! د مسلمانانو بعضو هوټلو کښې د زړه او اِينے نه علاوه د غوټې او چيلې هګۍ هم په تبخې سرې کولے او خرخولے کيږي، غالِباً د هوټل په ژبه کښې دې ځلې ته [په اُردو کښې] ”کټاکټ“ وئيلے کيږي. شايد دې ته ”کټاکټ“ په دې وجه وائي چې د ګاک په مخکښې زړه يا هګۍ وغيره چې سرې کوي نو په تبخې ئې کيږدي او په رمبې ئې په تيزه تيزه وهي او کټ کوي هغې نه د ”کټاکټ“ آواز پيدا کيږي.

## لرے

په **لَري** کښې ګندګي پرته وي د دې خوراک مکروهِ تحريمي دے خو د مسلمانانو يو شمير ئې نن صبا ښه په شوق خوري.

## د قُربانۍ د څرمنو جمع کولو 22 نِيَّتونه او احتياطونه

**دوه فرامين مُصطَفیٰ** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿۱﴾ ”د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.“ (مُعْجَم کبير ج٦، ص١٨٥ حديث:٥٩٤٢) ﴿۲﴾ ”ښه نِيَّت بنده جَنَّت ته داخلوي.“ (اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُورِ الْخطاب ج٤ ص٣٠٥ حديث٦٨٩٥)

**دوه مَدَني ګلونه:** (۱) ښه نِيَّت نه بغير د يو عملِ خير ثواب هُم نه حاصليږي (۲) څومره چې ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

﴿۱﴾ رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره ښه ښه نِیَّتونه کووم ﴿۲﴾ هر حال کښې به په شریعت او سُنَّت عمل کووم ﴿۳﴾ د قُربانۍ د څرمنو د پاره منډې ترړې په ذریعه به **دعوتِ اسلامي** سره تعاون کووم ﴿٤﴾ څوک چې راسره هر څومره بد سُلوکي اوکړي خو د غصے اظهار او ﴿۵﴾ بد اخلاقۍ نه به پرهيز کووم او دغسې به د دعوتِ اسلامي د نامُوس و عِزَّت حفاظت کووم ﴿٦﴾ د قُربانۍ د څرمنو په سبب که هر څومره مصروفِيَّت وي خو د عُذر شَرعي نه بغير به د يو لـمانځه جَمعه خو څه بلکه تکبيرِ اولٰی به هُم نه پريږدم ﴿۷﴾ پاک لِباس به سره د عِمامے شريفې او تهبند شاپر وغيره کښې لـمونځونو د پاره ځان سره ساتم (حسبِ ضرورت ئې بسته [يعني استمال] وغيره کښې هُم اينبودے شئ. د دې خاص تاکيد دے، ځکه چې د ذبح کولو په وخت کښې وتلې وِينه نَجاستِ غليظه او د متيازو په شان ناپاکه ده او د څرمنو راټولولو والا خپلې جامے پاکې ساتل ډير زيات مشکل دي. بهارِ شريعت جِلد اوَّل صفحه 389 کښې دي: "د **نَجاسَتِ غليظه** حُکم دا دے چې که په جامو يا بدن باندې د يو دِرهَم نه زيات اولګي نو د دې پاک کول فرض دي، پاک کولو نه بغير ئې له لـمونځ اوکړو نو نه به کيږي او که قصداً ئې اوکړو نو ګناه هم شوه او که په نِيَّت د اِستِخفاف (يعني حُکمِ شريعت سپک ګڼړل) وي نو کفر شو او که د دِرهَم همره وي نو پاک کول واجِب دي که پاک کولو نه بغير ئې لـمونځ اوکړو نو مکروهِ تَحريمي شو يعني د داسې لـمونځ اِعاده [يعني بيا کول] واجِب شو او که قصداً ئې اوکړو نو ګنهګار هُم شو او که دِرهَم نه کم وي نو پاک کول سُنَّت دي ځکه چې پاک کولو نه بغير ئې که لـمونځ اوکړو نو اوشو خو خِلافِ سُنَّت اوشو او د دې اِعاده بهتره ده.") ﴿۸﴾ د جُمات، کور، دفتر او مدرسے وغيره درځ، چټاياني [پزَکي]، قالِين وغيره او نور څيزونه به وينه باندې ککړولو نه

بچ ساتم (د اودس خانے په لامده فرش او پائیدان و غیره باندې هم په وِینو ککړې شپې اینښودلو نه بچ کیدل او د اودس کولو په وخت کښې هُم د ډیر احتیاط ضرورت دے ځکه نجَاست باندې د ککړیدو او د ناپاکه اوبو څاڅکو باندې ځان او د نورو خلقو ناپاکه کولو به هم ویره وي) ﴿۹﴾ په وِینو ککړو بدبوداره جامو سره به جُمات ته نه ځم (که بدبوئي نه کوي نو بیا هُم ناپاکه بدن او یا جامے یا بل څیز جُمات ته وړل منع دي. که د زخم، دانے، جامو، عِمامے، څادر، بدن یا لاسونو، خُلې وغیره نه بدبوئي راځي نو جُمات ته داخلیدل حرام دي. فیضانِ سُنَّت جِلد اوَّل صفحه لاندې نه 1217 کښې دي: جُمات د (بد) بُوئي نه ساتل واجِب دي وَ لِـهذا جُمات کښې د خاورو تیل سیزل حرام، جُمات کښې (د بدبودارو بارودو والا ماچس) تِیلے بلول حرام، تر دې چې په حدیث کښې ارشاد شوے دے: جُمات ته کچه غوښه وړل جائز نه دي. (اِبنِ مَاجَه ج۱ ص۴۱۳ حدیث۷۴۸) حالانکه د کچه غوښې (بد) بوئي ډیر خَفِیف (یعني کم) وي. ﴿۱۰﴾ قَلَم، رسید بُک، پیډ، ګلاس، د چائے پیالئ وغیره پاک څیزونه به ناپاکه وِینې نه بچ ساتم (فَتَاوىٰ رَضَوِیَّه مُخَرَّجَه، جِلد ٤، صفحه 585 کښې دي: "پاک څیز (بِلا اِجازتِ شرعي) ناپاکه کول حرام دي") ﴿۱۱﴾ چا چې بلې اِدارے ته د څرمن ورکولو وعده کړې وي هغه ته به د بدعهدئ مشوره نه ورکووم (آسانه طریقه دا ده چې ښو ښو نِیَّتونو سره تاسو ټول کال مُتَوَجِّه اوسئ او پخپله د مخکښې نه څرمنې بُک کړئ) ﴿۱۲﴾ که د یوے سُنِّي اِدارے والا خپله طے شُده څرمن وصولو د پاره نه وي رارسیدلے، یا ﴿۱۳﴾ غلطئ سره ما ته راغله نو د ثواب په نِیَّت به ئې هغوئي

ته وروړم ﴿۱٤﴾ خوک چې خرمن راکوي که کيدے شو هغه ته به د مَکتَبَةُ الْمَدِينه يوه رِساله يا پمفلټ تُحفةً پيش کووم. ﴿۱٥﴾ او هغه ته به "شُکرِيه، جَزَاکَ الله" وايم. (فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مَنْ لَّمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللّٰهَ. يعني چا چې د خلقو شُکريه ادا نه کړه هغه د الله عَزَّوَجَلَّ شُکر هُم ادا نه کړو. (تِرمِذِی،ج۳. ص۳۸٤. حديث۱۹٦۲) ﴿۱٦﴾ خرمن راکوونکي باندې به اِنفرادي کوشش کووم او د سُنَّتو ډکي اِجتِماع او ﴿۱۷﴾ مَدَني قَافِلو کښې د سفر وغيره رَغبَت به ورکووم ﴿۱۸﴾ وروسته به ورسره رابطه ساتم او د خرمني راکولو د احسان بدله کښې به هغه د **دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول** ته د راوستلو کوشش کووم که ﴿۱۹﴾ مخکښې نه **مَدَني ماحول** کښې وو نو د مَدَني قَافِلے مسافر يا ﴿۲۰﴾ د مَدَني انعاماتو عامِل به ئې جوړووم يا ﴿۲۱﴾ يو نه يو څه مَدَني ترکيب به کووم (ذِمَّه دارانو ته پکار دي چې وروسته وخت اوباسي او د خرمني ورکولو والؤ شُکريه ادا کولو د پاره ضرور لاړ شي او تول مُحسِنِين علاقائي سطح باندې يا چې څنګه مناسب وي راجمع کړئ او مختصر د نيکئ دعوت او د تقسيمِ رَسائل وغيره ترکيب جوړ کړئ. د رسالو ترکيب به د دعوتِ اسلامي په چنده نه بلکه جُدا ترکيب به کول غواړي) ﴿۲۲﴾ لرې يا نزدے چې هر ځائے نه د خرمن راوړلو (يا بسته [ستهال] يا د بل څه کار سنبالولو) راته ذِمَّه دار اسلامي ورور اُووائي نو د رَد او اعتراض کولو بغير به ئې اِطاعت کووم. (ادا نِيَّتونه ډير کم دي عِلم نِيَّت باندې پوهه خلق نور هُم ډير نِيَّتونه راوِيستلے شي)

## يوه اَهَمه شرعي مسئله

همیشه د قُربانۍ څرمنې او نفلي عطیات "کُلّي اختیاراتو" یعني په دې نِیَّت ورکوئ چې په هر نیک او جائز کار کښې استعمالیدے شي ځکه چې که مخصوص کړے شي مَثَلًا چا اُووئیل چې: "دا د **دعوتِ اسلامي** د مدرسے د پاره ده" نو بیا جُمات یا بل یو مَد (یعني عُنوان) کښې به د دې استعمالول ګناه شي. اخستونکي ته هُم پکار دي چې که د څه مخصوص کار د پاره هُم چنده واخلي نو احتیاطاً دِ وائي چې زمونږه مَثَلًا د **دعوتِ اسلامي** نور هُم دِیني کارونه وي، تاسو مونږ ته "**کُلّي اِختیارات**" راکړئ چې دا رقم **دعوتِ اسلامي** چرته مناسب ګنړي هلته ئې نیک او جائز کار کښې خرچ کړي. یاد ساتئ چې چندے والا "آو" اُووائي او هغه د چندے یا څرمن وغیره اصل مالِک وي نو هله به "اِجازت" منلے کیږي. لِهذا چنده یا څرمن ورکوونکي نه دِ تپوس اوکړے شي چې دا د چا له طرفه ده، که هغه د بل کس نوم واخلي نو بیا به د هغه "آو" وئیل فائده مند نه وي، اصل مالِک سره دِ فون وغیره په ذریعه رابطه اوکړي. (زکوٰة او فِطره ورکوونکي نه د "کُلّي اختیاراتو" اخستلو ضرورت نشته ځکه چې دا د "شَرعي حِیلے" په ذریعه استعمالیږي)

**عالَمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ، بابُ المَدینه کراچۍ، پاکستان فون: 91-4921389**

www.dawateislami.net

**مدني عرض:** د قُربانۍ تفصیلي مسائل بهارِ شریعت جِلد۳ صفحه ۳۳۷ تا ۳۵۳ کښې اوګورئ.

رقصِ بسمل کی بہاریں تو مِنیٰ میں دیکھیں
دلِ خُونابہ فشاں کا بھی تڑپنا دیکھو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوبُوْا اِلَی الله! اَسْتَغْفِرُ الله

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد